د افغانستان اسلامي جمهوریت

دعدلیې وزارت

# رسمي جریده

- داحصائیې دقانون دځینومادو تعدیل
- دمعاملودلارښوونې قانون
- له خطرسره دمخامخ روغتیایي کارکوونکودامتیاز په مقرره کې ایزاد
- دسیاسي ګوندونو دتأسیس اوثبت دډول دمقررې ددوولسمې مادې د(۵،۶ او۷)فقروتعدیل اودخوارلسمې مادې د (۳) جزء حذف

- تعدیل برخی مواد قانون احصائیه
- قانون رهنمای معاملات
- ایزاد درمقررهٔ امتیازکارکنان صحی مواجه به خطر
- تعدیل فقره های (۵، ۶ و۷) مادهٔ دوازدهم وحذف جزء (۳) مادهٔ چهاردهم مقررهٔ طرزتأسیس وثبت احزاب سیاسی

دخپرېدونېټه: د۱۳۹۵هـ.ش کال دلیندۍ دمیاشتې (۱۵)
پرله پسې نمبر:(۱۲۳۸)

تاریخ نشر: (۱۵) قوس سال ۱۳۹۵ هـ . ش
نمبر مسلسل: (۱۲۳۸)

| | |
|---|---|
| د امتیــاز خاوند: | دعدلیــې وزارت |
| مسئول چلوونکی: | قانونمل محمدرحیم "دقیق" |
| | ۰۷۰۰۵۸۷۴۵۷ |
| د دفتر تیلفون: | ۰۲۰۲۳۱۴۲۹۸ |
| مرستیال:نورعلم | ۰۷۰۰۱۴۷۱۷۸ |
| مهتمــم:محمد جان | ۰۷۴۷۶۲۷۹۳۰ |
| وب سایت: | www.moj.gov.af |

قیمت: (۱۴/۴۰)افغانی

تیراژ چاپ: (۳۰۰۰)جلد

تعداد صفحات به شمول پشتی: (۶۰)صفحه

مطبعه: صــــدف

آدرس:وزارت عــدلیه، ریاست نشرات و ارتباطعــامه،سرک(۱۵)وزیرمحمداکبرخان (شیرپور)کابل

د ۱۳۹۲ کال په (۱۱۱۰) ګڼه
رسمي جریده کې خپور شوی د
احصائیې د قانون د ځینو
مادو د تعدیل د خپرېدو
په هکله د افغانستان اسلامي
جمهوریت د رئیس
حکم

ګڼه: (۲۴۲۲)

نېټه: ۲۶/ ۷/ ۱۳۹۵

په (۱۱۱۰) ګڼه رسمي جریده کې خپور شوی د احصائیې د قانون پنځمه، اتمه ماده، دنهمې مادې(۱)فقره، دلسمې مادې (۲) فقره، دوولسمه ماده، د پنځلسمې مادې (۲) فقره او د اتلسمې مادې د (۲) فقرې تعدیل چې د ملي شورې د مجلسینو د ګډ پلاوي د ۱۶/ ۱/ ۱۳۹۴نېټې (۱۵۵) ګڼه فیصلې پربنسټ تصویب او د اساسي قانون د (۹۴) مادې له (۲) فقرې سره سم، توشېح او نافذ ګڼل شوی، په رسمي جریده کې دې خپور شي.

محمد اشرف غني
د افغانستان اسلامي جمهوریت رئیس

حکم
رئیس جمهوری اسلامی افغانستان
درمورد نشر تعدیل برخی
مواد قانون احصائیه
منتشرهٔ جریدهٔ رسمی
شماره (۱۱۱۰)
سال ۱۳۹۲

شماره: (۲۴۲۲)

تاریخ: ۱۳۹۵/۷/۲۶

تعدیل مواد پنجم، هشتم، فقره (۱) مادهٔ نهم، فقره (۲) مادهٔ دهم، مادهٔ دوازدهم، فقره (۲) مادهٔ پانزدهم وفقره (۲) مادهٔ هجدهم قانون احصائیه منتشرهٔ جریدهٔ رسمی شماره (۱۱۱۰) که براساس فیصله شماره (۱۵۵) مؤرخ ۱۶/۱/ ۱۳۹۴ هیئت مختلط مجلسین شورای ملی تصویب ومطابق فقرهٔ (۲) مادهٔ (۹۴) قانون اساسی توشیح شده ونافذ محسوب شده، درجریدهٔ رسمی نشر گردد.

محمد اشرف غنی
رئیس جمهوری اسلامی افغانستان

**دافغانستان اسلامي جمهوري دولت**

**ملي شوري**

**د ۱۳۹۲ کال په (۱۱۱۰) ګڼه رسمي جريده کې خپور شوي د احصائيې قانون د ځينو مادو تعديل فيصله**

ګڼه: (۱۵۵)

نېټه: ۱۶/ ۱/ ۱۳۹۴

د افغانستان اساسي قانون د سلمې مادې له درج شوي حکم سره سم، د ملي شوري د دواړو جرګو له دريو، دريو غړو جوړ شوي ګډ هيئت د ۱۳۹۲ کال په (۱۱۱۰) ګڼه رسمي جريده کې خپور شوي احصائيې قانون کې د حکومت وړانديز شوې طرحه له يو شمېر تعديلونو سره د ۱۶/ ۱/ ۱۳۹۴ نېټې په غونډه کې فيصله کړه.

د ګډ هيئت رئيس

منورشاه بهادري

د ګډ هيئت مرستيال

انار کلي هنريار

**دولت جمهوری اسلامی افغانستان**

**شورای ملی**

**فیصله**

**تعدیل برخی مواد قانون احصائیه منتشرۀ جریدۀ رسمی شماره (۱۱۱۰) سال ۱۳۹۲**

شماره: (۱۵۵)

تاریخ: ۱۳۹۴/۱/۱۶

به تأسی از حکم مندرج مادۀ صدم قانون اساسی افغانستان، هیئت مختلط مجلسین شورای ملی به ترکیب سه، سه نفر از اعضای هر جرگه قانون احصائیه منتشرۀ جریدۀ رسمی شماره (۱۱۱۰) سال ۱۳۹۲ طرح پیشنهادی حکومت را با یک سلسله تعدیلات در جلسۀ مؤرخ ۱۳۹۴/۱/۱۶ فیصله نمود.

رئیس هیئت مختلط

منور شاه بهادری

معاون هیئت مختلط

انارکلی هنریار

## د۱۳۹۲کال په (۱۱۱۰) ګڼه رسمي جريده کې خپور شوي د احصائيې د قانون د ځينو مادو تعديل

لومړۍ ماده:

پنځمه او اتمه ماده، د نهمې مادې (۱) فقره، د لسمې مادې (۲) فقره، دوولسمه ماده، د پنځلسمې مادې (۲) فقره او د اتلسمې مادې (۲) فقره دې، په لاندې متنونو تعديل شي:

۱- پنځمه ماده:

(۱) په هېواد کې د احصائيوي چارو د تنظيم په منظور، د احصائيې ملي کميټه په لاندې ترکيب سره رامنځته کېږي:

۱- د جمهوررئيس مرستيال د رئيس په توګه.

۲- د اقتصاد وزير د غړي په توګه.

۳- د ماليې وزير د غړي په توګه.

۴- د پوهنې وزير د غړي په توګه.

۵- د کار، ټولنيزو چارو، شهيدانو او معلولينو وزير د غړي په توګه.

## تعديل برخی مواد قانون احصائيه منتشرۀ جريدۀ رسمی شماره (۱۱۱۰) سال ۱۳۹۲

مادۀ اول:

مواد پنجم وهشتم،فقرۀ (۱) مادۀ نهم، فقره(۲) مادۀ دهم، مادۀ دوازدهم، فقره (۲) مادۀ پانزدهم وفقره (۲) مادۀ هجدهم به متون ذيل تعديل گردند:

۱- مادۀ پنجم:

(۱) به منظور تنظيم امور احصائيوی درکشور، کميتۀ ملی احصائيه به ترکيب ذيل ايجاد می گردد:

۱- معاون رئيس جمهور به حيث رئيس.

۲- وزير اقتصاد به حيث عضو.

۳- وزير ماليه به حيث عضو.

۴- وزير معارف به حيث عضو.

۵- وزير کار، امور اجتماعی، شهدا و معلولين به حيث عضو.

۶- د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ وزير د غړي په توګه.
۷- د عامې روغتيا وزير د غړي په توګه.
۸- د ښځو چارو وزير د غړي په توګه.
۹- د افغانستان بانک عمومي رئيس د غړي په توګه.
۱۰- د افغانستان د علومو اکاډمي عمومي رئيس د غړي په توګه.
۱۱- د افغانستان د سوداګرۍ او صنايعو خونې عامل هيئت رئيس د غړي په توګه.
۱۲- د احصائيې د مرکزي ادارې عمومي رئيس د منشي په توګه.

(۲) د احصائيې د ملي کميټې عادي غونډې په کال کې دوه ځلې جوړيږي. فوق العاده غونډې يې د رئيس په تصميم يا د غړو په وړانديز او د کميټې د رئيس په تأييد سره جوړېدای شي.

(۳) د احصائيې د ملي کميټې د اجراآتو کړنلاره د کمېټې لخوا تصويبيږي.

۶- وزير زراعت ، آبياری و مالداری به حيث عضو.
۷- وزيرصحت عامه به حيث عضو.
۸- وزير امور زنان به حيث عضو.
۹- رئيس عمومی دافغانستان بانک به حيث عضو.
۱۰- رئيس عمومی اکادمی علوم افغانستان به حيث عضو.
۱۱- رئيس هيئت عامل اتاق تجارت وصنايع افغانستان به حيث عضو.
۱۲- رئيس عمومی ادارۀ مرکزی احصائيه به حيث منشی.

(۲) جلسات عادی کميته ملی احصائيه سال دوبار داير می گردد. جلسات فوق العاده آن به تصميم رئيس يا پيشنهاد اعضاء وتائيد رئيس کميته داير شده می تواند.

(۳) طرزالعمل اجراآت کميته ملی احصائيه ازطرف کميته تصويب می گردد.

**۲- اتمه ماده:**

(۱) د احصائيې مركزي اداره د لاندې دندو او واكونو لرونكې ده:

۱- د سوداګريز، صنعتي، كرنيز، مالي، ټولنيز، اقتصادي، روغتيايي، چاپېريالي (محيطي) او د خلكو د عمومي فعاليتونو د وضعې په چارو پورې د اړوندو مواردو، د احصائيوي مستندو، دقيقو او پروخت معلوماتو راټولول، توحيدول، تحليلول او خپرول.

۲- د ملي محاسباتو او د بيو د شاخص سنجول.

۳- له وزارتونو او دولتي ادارو سره د هغوی له فعاليتونو څخه د ترلاسه شوو احصائيو په شمول د احصائيوي معلوماتو په راټولولو، ترتيبولو او خپرولو كې همكاري كول.

۴- د احصائيوي سروې ګانو او نفوسو د سر شمېرنې اجراء كول.

۵- د هغو معلوماتو په هكله چې د وزارتونو او دولتي يا غير دولتي ادارو په واسطه راټولېږي د عمل له تكرار

**۲- مادهٔ هشتم:**

(۱) ادارهٔ مركزی احصائيه دارای وظايف وصلاحيت های ذيل می باشد:

۱- جمع آوری ،توحيد، تحليل ونشر معلومات به موقع، دقيق ومستند احصائيوی دررابطه به امور تجارتی، صنعتی، زراعتی، مالی، اجتماعی، اقتصادی،صحی، محيطی و وضع فعاليت های عمومی مردم.

۲- سنجش محاسبات ملی وشاخص قيم.

۳- همكاری با وزارت ها وادارات دولتی درجمع آوری ،ترتيب ونشر معلومات احصائيوی به شمول احصائيه های حاصله از فعاليت آنها.

۴- اجرای سروی های احصائيوی وسرشماری نفوس.

۵- جلوگيری از تكرار عمل درمورد معلوماتی كه توسط وزارت ها وادارات دولتی يا غير دولتی جمع آوری

ځخه مخنیوی.

۶- په ټول هېواد کې د اقتصادي او ټولنیزو توحید شوو احصائیو عمومي اصلاح او پرمختیا او د توحیدولو لپاره د پلانونو سمون.

۷- د وزارتونو او نورو دولتي ادارو د ګټې اخیستنې لپاره د تصنیفونو او مناسبو احصائیوي ستندردونو پرمختیا او تجویزول.

۸- د احصائیوي معلوماتو لرونکو مناسبو ډیټابیسونو (د معلوماتو د مرکزونو) دوامداره پرمختیا او ساتنه او ددې قانون په حکمونو کې د درج شوو محرمو معلوماتو په استثنې، د ټولو ګټه اخیستونکو لپاره نوموړو معلوماتو ته د لاس رسۍ د زمینې مساعدول.

۹- د احصائیوي معلوماتو د راټولولو، توحیدولو او د خپرولو د وخت د څرنګوالي د لارو چارو په هکله، د تصمیم نیول.

۱۰- د زېږون، مړینې اومهاجرت ضریب ته د اړوندو ادارو په همکارۍ له احصائیوي علمي تګلارو ځخه په ګټې

می گردد.

۶- اصلاح و انکشاف عمومی احصائیه های توحید شده اقتصادی واجتماعی درسراسر کشوروانسجام پلان ها جهت توحید آن.

۷- انکشاف وتجویز تصانیف و ستندرد های احصائیوی مناسب جهت استفادهٔ وزارت ها وسایر ادارات دولتی.

۸- انکشاف متداوم ونگهداشت دیتابیس های مناسب (مراکزمعلومات) حاوی معلومات احصائیوی ومساعد ساختن زمینه دسترسی به معلومات مذکور برای همه استفاده کنندگان به استثنای معلومات محرم مندرج احکام این قانون.

۹- اتخاذ تصمیم درمورد شیوهٔ جمع آوری، توحید و چگونگی زمان نشرمعلومات احصائیوی.

۱۰- تثبیت وارائه آخرین رقم نفوس کل کشور درهر سال با استفاده از روش های

اخيستنې سره په هرکال کې د هېواد د ټولو نفوسو د آخرنۍ شمېرنې تثبيتول او وړاندې کول.

(۲) د اقتصادي مؤسسو د ثبت مسئولې ادارې مکلفې دي، د ثبت شوو مؤسسو فهرست او د هغوی فعالیت یا نه فعالیت د هر مالي کال په پای کې د احصائیې د مرکزي ادارې په واک کې ورکړي.

۳- نهمه ماده:

(۱) د احصائیې مرکزي اداره، د کار پلان او د احصائیوي ارقامو د تقویم خپرول، د کاري پروګرامونو، د احصائیوي عمده ارقامو د راټولولو او د لګښتونو د اټکل له په پام کې نیولو سره، د مالي کال له پیل څخه درې میاشتې دمخه برابروي او موضوع د احصائیې ملي کمیټې ته وړاندې کوي.

د احصائیې ملي کمیټه له ارزونې وروسته، له خپلو نظریو سره یوځای هغه د منظورۍ د اخیستلو په غرض د وزیرانو شورې ته وړاندې کوي.

علمی احصائیوی به همکاری ادارات ذیربط با درنظرداشت ضریب تولدات، وفیات ومهاجرت.

(۲) ادارات مسئول ثبت مؤسسات اقتصادی مکلف اند ،فهرست مؤسسات ثبت شده و فعالیت یا عدم فعالیت آنها را درختم هرسال مالی به دسترس ادارهٔ مرکزی احصائیه قراردهند.

۳- مادهٔ نهم:

(۱) ادارهٔ مرکزی احصائیه، پلان کار و تقویم نشر ارقام احصائیوی را با نظرداشت پروگرام های کاری، جمع آوری ارقام عمدهٔ احصائیوی وتخمین مصارف آن سه ماه قبل از شروع سال مالی، تهیه وموضوع را به کمیتهٔ ملی احصائیه ارائه می نماید.

کمیتهٔ ملی احصائیه بعد از ارزیابی، آنهارا توام بانظریات خود به شورای وزیران غرض اخذ منظوری ارائه می نماید.

**۴- لسمه ماده:**

(۲) د احصائيې مرکزي اداره کولای شي، د اړتيا پر مهال د دندو د ترسره کولو او د احصائيې د مرکزي ادارې د واکونو دکارولو په غرض، د اړوند تقنيني سند مطابق، د ټاکلي وخت مودې لپاره د ملکي خدمتونو له کارکوونکو څخه د خدمت په موخه کار واخلي.

**۵- دوولسمه ماده:**

د احصائيوي ارقامو د راټولولو کارکوونکي، ددې قانون د حکمونو مطابق، د مقتضي معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره اړوندو اشخاصو او مراجعو ته فورمې وراستوي.

هغه شخص چې فورمه ورته وراستول کېږي، پوښتنو ته ځواب ورکوي، د فورمې له سموالي څخه تصديق کوي او هغه په فورمه کې درج په ټاکل شوي وخت کې د احصائيې مرکزي ادارې ته وروسپاري.

**۴- مادۀ دهم:**

(۲) ادارۀ مرکزی احصائیه می تواند، عنداللزوم از کارکنان خدمات ملکی غرض اجرای وظایف واعمال صلاحیت های ادارۀ مرکزی احصائیه ، طبق سند تقنینی مربوط برای مدت زمان معین استحصال خدمت نماید.

**۵- مادۀ دوازدهم:**

کارکنان جمع آوری ارقام احصائیوی مطابق احکام این قانون،فورمه ها را جهت حصول معلومات مقتضی به اشخاص ومراجع مربوط ارسال می نمایند.

شخصی که فورمه برایش ارسال می گردد، به سوالات جواب داده، از صحت فورمه تصدیق وآن را دروقت معینه مندرج فورمه به ادارۀ مرکزی احصائیه تسلیم می نماید.

۶- پنځلسمه ماده:

(۲) د هر ولایت د نفوسو سر شمېرنه د ولسوالیو او ناحیو په توپیر سره صورت مومي.

۷- اتلسمه ماده:

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوی شخص چې سوګند یې یاد کړی وي، نشي کولای هغه معلومات چې ددې قانون د حکمونو مطابق یې لاسته راوړي دي. په داسې توګه افشاءکړي چې له سوداګرو، شرکتونو یا سازمانونو سره په اظهارلیک کې درج شوي مواد مشخص او ممکن وګرځوي. په عقد شوي موافقه لیک کې د درج شوو شرایطو مطابق، د معلوماتو لېږدېدل، لدې حکم څخه مستثني دي.

دوه یمه ماده:

دغه حذف او تعدیل د توشېح له نېټې څخه نافذ او په رسمي جریده کې دې خپور شي.

۶- مادهٔ پانزدهم:

(۲) سرشماری نفوس هر ولایت به تفکیک ولسوالی ها و نواحی آن صورت می گیرد.

۷- مادهٔ هجدهم:

(۲) شخص مندرج فقرهٔ (۱) این ماده که سوگند یاد نموده، نمی تواند معلوماتی راکه طبق احکام این قانون بدست آورده. طوری افشاء نمایدکه مواد مندرج در اظهارنامه را با تاجران، شرکت ها یا سازمان ها، مشخص وممکن سازد.انتقال معلومات طبق شرایط مندرج موافقتنامه منعقده ازاین حکم مستثنی می باشد.

مادهٔ دوم:

این حذف وتعدیل از تاریخ توشیح نافذ و درجریدهٔ رسمی نشر گردد.

د معاملود لارښوونې د قانون په اړه د ملي شوري د مجلسينو د ګډ هيئت د پرېکړې د توشېح په هکله د
افغانستان اسلامي جمهوريت د رئيس
فرمان

ګڼه: (۱۳۵)
نېټه: ۱۰/ ۸/ ۱۳۹۵

لومړۍ ماده:

د افغانستان د اساسي قانون د(۶۴)مادې د (۱٦) جزء د حکم له مخې او د (۱۰۰) مادې د (۲) فقرې په اتکاء، د معاملو د لارښوونې د قانون په هکله د ملي شوري د مجلسينو د ګډ هيئت د ٦/ ۷/ ۱۳۹۵ نېټې (۲۱۸) ګڼه پرېکړه، توشېح کوم.

دوه يمه ماده:

دغه فرمان د توشېح له نېټې څخه نافذ، د ملي شوري د مجلسينو د ګډ هيئت له پرېکړې او د نوموړي قانون له متن سره يوځای دې، په رسمي جريده کې خپور شي.

محمد اشرف غني
د افغانستان اسلامي جمهوريت رئيس

فرمان
رئيس جمهوری اسلامی افغانستان
درمورد توشيح فيصلهٔ هيئت مختلط مجلسين شورای ملی پيرامون قانون رهنمای معاملات

شماره: (۱۳۵)
تاريخ: ۱۰ / ۸ /۱۳۹۵

مادهٔ اول:

به تأسی از حکم جزء (۱٦) مادهٔ (٦۴) و متکی به فقرهٔ (۲) مادهٔ (۱۰۰) قانون اساسی افغانستان، فيصلهٔ شماره (۲۱۸) مؤرخ ۱۳۹۵/۷/٦ هيئت مختلط مجلسين شورای ملی را در مورد قانون رهنمای معاملات، توشيح می دارم.

مادهٔ دوم:

اين فرمان از تاريخ توشيح نافذ، همراه با فيصلهٔ هيئت مختلط مجلسين شورای ملی و متن قانون متذکره در جريدهٔ رسمی نشر گردد.

محمد اشرف غنی
رئيس جمهوری اسلامی افغانستان

دافغانستان اسلامي جمهوري دولت

ملي شوري

د معاملاتو د لارښوونې د قانون په هکله د جمهور رئیس

د ۸/ ٦/ ۱۳۹۴ نېټې (٦۸) ګڼه تقنيني فرمان

فیصله

ګڼه: (۲۱۸)

نېټه: ٦/ ۷/ ۱۳۹۵

دافغانستان داسلامي جمهوريت داساسي قانون د سلمې مادې له حکم سره سم، د ملي شوري د دواړو جرګو له پنځو، پنځو غړو څخه جوړ شوي ګډ هیئت د معاملاتو د لارښوونې د قانون په هکله د جمهور رئیس د ۸/ ٦/ ۱۳۹۴ نېټې (٦۸) ګڼه تقنيني فرمان له یو لړ تعدیلونو او زیاتوالي سره په (۵) فصلونو، (۳۵) مادو کې د ٦/ ۷/ ۱۳۹۵نېټې د سه شنبې ورځې په غونډه کې فیصله کړ.

د ګډ هیئت رئیس

سید محمد حسن شریفي بلخابي

د ګډ هیئت معاون

مولوي غلام محي الدين منصف

دولت جمهوری اسلامی افغانستان

شورای ملی

فیصله

فرمان تقنینی شماره (٦۸)

مؤرخ ۱۳۹۴/٦/۸ رئیس

جمهور در مورد

قانون رهنمای معاملات

شماره: (۲۱۸)

تاریخ: ۱۳۹۵/۷/٦

به تأسی از حکم مادهٔ صدم قانون اساسی جمهوری اسلامی افغانستان، هیئت مختلط مجلسین شورای ملی به ترکیب پنج، پنج نفر از اعضای هر جرگه فرمان تقنینی شماره (٦۸) مؤرخ ۱۳۹۴/٦/۸ رئیس جمهور در مورد قانون رهنمای معاملات را با یک سلسله تعدیلات و ایزاد در (۵) فصل و (۳۵) ماده در جلسهٔ روز سه شنبه مؤرخ ۱۳۹۵/۷/٦ فیصله نمود.

رئیس هیئت مختلط

سید محمد حسن شریفی بلخابی

معاون هیئت مختلط

مولوی غلام محی الدین منصف

# فهرست مندرجات

## قانون رهنمای معاملات

## فصل اول

## احکام عمومی


| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادهٔ اول: | مبنی | ۱۵ |
| مادهٔ دوم: | اهداف | ۱۵ |
| مادهٔ سوم: | اصطلاحات | ۱۵ |
| مادهٔ چهارم: | مرجع تطبیق کننده | ۱۷ |
| مادهٔ پنجم : | جوازنامه | ۱۸ |
| مادهٔ ششم : | سته (سند معامله) و کتاب ثبت | ۱۸ |
| مادهٔ هفتم : | حصول اطمینان ازصحت اسناد واهلیت قانونی طرفین | ۱۹ |


## فصل دوم

## دفاتر رهنمای معاملات


| | | |
|---|---|---|
| مادهٔ هشتم : | شرایط ایجاد | ۲۰ |
| مادهٔ نهم : | منع اشتغال به رهنمای معاملات | ۲۱ |
| مادهٔ دهم : | فورم معلوماتی | ۲۳ |
| مادهٔ یازدهم: | ارائه تضمین | ۲۳ |
| مادهٔ دوازدهم: | عدم انتقال ملکیت های تحت تضمین | ۲۴ |

**مادۀ سیزدهم: اعطای جوازنامه........................................۲۵**
**مادۀ چهاردهم: تمدید جوازنامه........................................۲۶**
**مادۀ پانزدهم: انصراف از شغل رهنمای معاملات..............۲۷**
**مادۀ شانزدهم: لغو جوازنامه........................................۲۸**

**فصل سوم**

**حقوق و مکلفیت های دارنده جوازنامه**

**مادۀ هفدهم: اعاده تضمین........................................۲۹**
**مادۀ هجدهم: حق العمل........................................۲۹**
**مادۀ نزدهم: حقوق و مکلفیت ها..................................۳۰**
**مادۀ بیستم: استخدام شخص در دفتر رهنمای معاملات.............۳۳**
**مادۀ بیست ویکم: مهر رهنمای معاملات............................۳۴**
**مادۀ بیست ودوم: ساحه فعالیت........................................ ۳۴**
**مادۀ بیست وسوم: انتقال دفتر........................................۳۴**

**فصل چهارم**

**بررسی فعالیت دفاتر**

**مادۀ بیست و چهارم: هیئت بررسی........................................۳۵**
**مادۀ بیست و پنجم: شکایت به ادارۀ انسجام........................۳۷**
**مادۀ بیست وششم: عدم اعتبار معاملۀ مخالف احکام این قانون.............۳۷**

**فصل پنجم**

**احکام متفرقه**

**مادۀ بیست و هفتم: ایجاد ویب سایت........................................۳۷**
**مادۀ بیست و هشتم: مکلفیت مالیاتی........................................۳۸**
**مادۀ بیست و نهم: مؤیدات........................................۳۸**
**مادۀ سی ام: اعتبار سته (سند معامله)........................................۴۱**
**مادۀ سی و یکم: همکاری........................................۴۲**
**مادۀ سی و دوم: مثنی........................................۴۲**
**مادۀ سی و سوم: تحویلی پول........................................۴۳**
**مادۀ سی و چهارم: انجام شغل رهنمای معاملات قبل از انفاذ این قانون....۴۳**
**مادۀ سی و پنجم: انفاذ........................................۴۴**

# د معاملو د لارښوونې قانون

## لومړی فصل

## عمومي حکمونه

**مبني**

**لومړۍ ماده:**

دغه قانون د افغانستان د اساسي قانون د اته څلوېښتمې مادې د (۳) فقرې د حکم په رڼا کې، وضع شوی دی.

**موخې**

**دوه یمه ماده:**

ددې قانون موخې عبارت دي له:

۱- د معاملو د لارښوونې د دفترونو د فعالیت اړوندو چارو تنظیمول.

۲- د معاملو په سرته رسولو کې د آسانتیاوو برابرول.

۳- د شرطونو لرونکو اشخاصو لپاره د بوختیا(اشتغال) د زمینې برابرول.

**اصطلاحګانې**

**درېیمه ماده:**

راتلونکې اصطلاحګانې په دې قانون کې لاندې مفاهیم افاده کوي:

# قانون رهنمای معاملات

## فصل اول

## احکام عمومی

**مبنی**

**مادۀ اول:**

این قانون در روشنی حکم فقرۀ (۳) مادۀ چهل‌وهشتم قانون اساسی افغانستان وضع گردیده است.

**اهداف**

**مادۀ دوم:**

اهداف این قانون عبارت اند از:

۱- تنظیم امور مربوط به فعالیت دفاتر رهنمای معاملات.

۲- فراهم آوری تسهیلات در انجام معاملات.

۳- فراهم نمودن زمینه اشتغال برای اشخاص واجد شرایط.

**اصطلاحات**

**مادۀ سوم:**

اصطلاحات آتی دراین قانون مفاهیم ذیل را افاده می‌نماید:

۱- د معاملو لارښوونه: هغه کسب دی چې دهغهٔ جواز لیک لرونکی په دې قانون کې د درج شوو معاملو په سرته رسولو کې، د معاملې د اړخونو ترمنځ منځګړیتوب(وساطت)کوي.

۲- معاملې: معینه عقود چې د غیر منقولو مالونو پېرل، پېرودل، ګروي، اجاره، کرایه او جایزي بیه او د نقلیه وسایطو پېرل او پېرودل رانغاړي، دي.

۳- جوازلیک: چاپي پاڼه ده چې د اړوندې ادارې له خوا ترتیب او په دې قانون کې د درج شوو شرایطو لرونکي شخص ته ورکول کېږي.

۴- معلوماتي فورمه: چاپي پاڼه ده چې د اړوندې ادارې له خوا ترتیب او د جوازلیک غوښتونکي د معلوماتود درجولو په منظور تر ګټې اخیستنې لاندې نیول کېږي.

۵- د معاملې سند: چاپي پاڼه ده چې د هغې نمونه(بېلګه) د اړوندې ادارې له خوا ترتیبېږي اود معاملو د درجولو په منظور د جوازلیک لرونکي له خوا تر ګټې اخیستنې لاندې نیول کېږي.

۱- رهنمای معاملات: شغلی است که دارندهٔ جوازنامهٔ آن درانجام معاملات مندرج این قانون، میان طرفین معامله وساطت می نماید.

۲- معاملات: عقود معینه شامل خرید، فروش، رهن، اجاره، کرایه وبیع جایزی اموال غیر منقول و خرید و فروش وسایط نقلیه می‌باشد.

۳- جوازنامه: ورق مطبوع است که از طرف ادارهٔ مربوط ترتیب و به شخص واجد شرایط مندرج این قانون اعطاء می‌گردد.

۴- فورمهٔ معلوماتی: ورق مطبوع است که از طرف ادارهٔ مربوط ترتیب وبه منظور درج معلومات متقاضی جواز نامه مورد استفاده قرار می گیرد.

۵- سند معامله: ورق مطبوع است که نمونه آن ازطرف ادارهٔ مربوط ترتیب وازطرف دارندهٔ جواز نامه به منظور درج معاملات مورد استفاده قرار می گیرد.

۶- تضمین: غیر منقول ملکیت، چې د شرعي یا عرفي سند لرونکی وي او نغدې پیسې دي چې ددې قانون له حکمونو سره سم د معاملو د لارښوونې د جوازلیک د غوښتونکي یا بل شخص له خوا د انسجام ادارې ته په ضمانت کې ایښودل کېږي.

۷- د ثبت کتاب: مجلدې پاڼې دي چې د اړوندې مرجع له خوا ترتیب او د جواز لیک لرونکي له لوري د معاملو د ثبت او ورځنیو اجراآتو په منظور تر ګټې اخیستنې لاندې نیول کېږي.

## تطبیق کوونکې مرجع

**څلورمه ماده:**

(۱) د عدلیې وزارت ددې قانون د حکمونو د تطبیق مرجع ده.

(۲) د عدلیې وزارت د ټولنو او سیاسي ګوندونو د انسجام، بررسۍ او ثبت اداره ددې قانون د حکمونو مطابق په مرکز او ولایتونو کې د معاملو د لارښوونې چارې تنظیموي.

(۳) د ټولنو او سیاسي ګوندونو د

۶- تضمین: ملکیت غیرمنقول که دارای سند شرعی یا عرفی و پول نقد است که از طرف متقاضی جوازنامهٔ رهنمای معاملات یا شخص دیگر به ادارهٔ انسجام مطابق احکام این قانون به ضمانت گذاشته می شود.

۷- کتاب ثبت: اوراق مجلدی است که از طرف مرجع مربوط ترتیب و از طرف دارندهٔ جواز نامه به منظور ثبت معاملات و اجراآت روز مره مورد استفاده قرارمی گیرد.

## مرجع تطبیق کننده

**مادهٔ چهارم:**

(۱) وزارت عدلیه مرجع تطبیق احکام این قانون میباشد.

(۲) ادارهٔ انسجام، بررسی وثبت جمعیت ها و احزاب سیاسی وزارت عدلیه امور رهنمای معاملات را در مرکز و ولایات مطابق احکام این قانون تنظیم می‌نماید.

(۳) ادارهٔ انسجام، بررسی و ثبت

انسجام، بررسی او ثبت اداره، په دې قانون کې د انسجام د ادارې په نوم یادېږي.

## جوازلیک

**پنځمه ماده:**

د انسجام اداره جوازلیک برابروي او د شرایطو لرونکې غوښتونکي ته یې صادروي.

## سته (د معاملې سند) او د ثبت کتاب

**شپږمه ماده:**

(۱) د ستې (د معاملې سند) شکل او محتوي د انسجام د ادارې له لوري ترتیبېږي او د مالیې وزارت له خوا د بها لرونکي (بهادار) سند په توګه په څلورو نقلونو کې چاپېږي، د ټاکل شوې بیې په بدل کې دجواز لیک لرونکي لاس رسی ته ورکول کېږي او دانسجام ادارې له مهر او نښې کولو وروسته، ترګټې اخیستنې لاندې نیول کېږي.

(۲) د جوازلیک لرونکی د ثبت د هغهٔ کتاب په لرلو مکلف دی چې د انسجام

جمعیت ها و احزاب سیاسی، دراین قانون بنام ادارهٔ انسجام یاد می گردد.

## جوازنامه

**مادهٔ پنجم:**

ادارهٔ انسجام جوازنامه را تهیه و به متقاضی واجد شرایط صادر می نماید.

## سته (سند معامله) و کتاب ثبت

**مادهٔ ششم:**

(۱) شکل و محتوای سته (سند معامله) از طرف ادارهٔ انسجام ترتیب و از طرف وزارت مالیه به حیث سند بهادار در چهار نقل طبع گردیده در بدل قیمت معینه به دسترس دارندهٔ جوازنامه قرار گرفته و بعد از مهر و نشانی شد ادارهٔ انسجام مورد استفاده قرار می گیرد.

(۲) دارندهٔ جوازنامه مکلف به داشتن کتاب ثبت می باشد که ازطرف ادارهٔ

د اداري له خوا ترتيب او د (۱۰۰۰) زرو افغانيو په بدل کې ورته وېشل کېږي.

(۳) د ثبت د کتاب پاڼې د انسجام د اداري په واسطه د ګڼې په قيد مهر او لاسليک کېږي.

## د سندونوله صحت اود اړخونوله قانوني اهليت څخه ډاډ ترلاسه کول

اوومه ماده:

(۱) د جوازليک لرونکی، هغه معاملې ثبت يا په هغو کې منځګړيتوب کوي چې د هغو دحکم وړ سندونو له صحت او د عاقدينو له اهليت او قانوني صلاحيت څخه يې ډاډ ترلاسه کړی وي.

(۲) د دې مادې په (۱) فقره کې د درج شوي حکم له په پام کې نيولو سره، په هغهٔ صورت کې چې اړخونه د معاملې په سرته رسولو موافقه وکړي، د جواز ليک لرونکی مکلف دی، د هغې څرنګوالی د سته (د معاملې سند) کې

انسجام ترتيب و در بدل مبلغ (۱۰۰۰) يکهزار افغانی برايش توزيع می گردد.

(۳) صفحات کتاب ثبت توسط ادارهٔ انسجام به قيد شماره، مهر و امضاء می شود.

## حصول اطمينان از صحت اسناد واهليت قانونی طرفين

مادهٔ هفتم:

(۱) دارندهٔ جوازنامه، معاملاتی را ثبت يا در آن وساطت می نمايد که ازصحت اسناد مدار حکم، اهليت و صلاحيت قانونی عاقدين اطمينان حاصل کرده باشد.

(۲) با رعايت حکم مندرج فقرهٔ (۱) اين ماده در صورتی که طرفين به انجام معامله توافق نمايند، دارندهٔ جوازنامه مکلف است، چگونگی آنرا در سته (سند معامله) درج وبعد از امضاء يا نشان انگشت

درج او د اړخونو د لاسليک يا د ګوتې د نښې او د هغه له خپل لاسليک او مهر څخه وروسته، د هغه يو يو نقل د معاملې اړخونو ته، يو نقل يې ماليې وزارت ته وړاندې او بل نقل يې د اړوندو معاملو د لارښوونې په دفتر کې د کندې په توګه وساتي.

(۳) د جوازليک لرونکی د سته (د معاملې سند) د ثبت په اړوند کتاب کې درج او ددې مادې په (۲) فقره کې درج د سته (د معاملې سند) اصل کنده د انسجام اړوندې ادارې ته تسليم او رسيد اخلي.

## دوه يم فصل

## د معاملو د لارښوونې دفترونه

### د رامنځته کېدو شرطونه

**اتمه ماده:**

هغه شخص کولای شي د معاملو د لارښوونې دفتر رامنځته کړي چې د لاندې شرايطو لرونکی وي:

۱- د افغانستان د تابعيت لرل.

۲- د حقوقي اهليت، نيک شهرت، د

طرفين و امضاء و مهر خودش، يک نقل آنرا به طرفين معامله، يک نقل آن را به وزارت ماليه ارائه ونقل ديگر آنرا دردفتر رهنمای معاملات مربوط به حيث کنده حفظ نمايد.

(۳) دارندۀ جواز نامه سته (سند معامله) را درکتاب ثبت مربوط درج و اصل کندۀ سته (سند معامله) مندرج فقرۀ (۲) اين ماده را به ادارۀ انسجام مربوط تسليم ورسيد اخذ می نمايد.

## فصل دوم

## دفاتررهنمای معاملات

### شرايط ايجاد

**مادۀ هشتم:**

شخصی می‌تواند دفتر رهنمای معاملات را ايجاد نمايدکه واجد شرايط ذيل باشد:

۱- داشتن تابعيت افغانستان.

۲ - داشتن اهليت حقوقی، شهرت

سیمې د وکیل او د ناحیې د رئـیس د تصدیق درلودل.

۳- لږ تر لږه د بکلوریا د تحصیلي سند لرل.

۴- د جنایت، اداري فسـاد او یـا د معاملو د لارښوونې په کسب پورې د اړوند جرم یا د واکمنې محکمې له خوا له مدني حقوقو څخه په حرمـان نـه محکومیت.

۵- د پنځه سوه زرو افغانیو یا له هغو څخه د لوړ ارزښت د شرعي یا عرفـي سند درلودونکي د غیر منقول ملکیت د تضمین وړاندې کول او یا ددې قانون په (۱) گڼه ضمیمه کې درج د نغـدو پیسو د بانکي سند وړاندې کول.

۶- د تضمین مبلغ عاریت دی او لـه بانکي ټکس څخه معاف دی.

## د معـــاملو د لارښــــوونې د کسب(اشتغال) منع

نهمه ماده:

(۱) لاندې اشخاص نه شي کـولای د دندې د تصدۍ پر وخت د معاملو پـه

نیـک، تصـدیق وکیـل گـذر و رئیس ناحیه.

۳ - داشتن سند تحصیلی حـد اقـل بکلوریا.

۴- عـدم محکومیـت بـه جـرم جنایت، فسـاد اداری و یـا مـرتبط بـه شـغل رهنمـای معـاملات یـا حرمان ازحقوق مدنی ازطرف محکمهٔ ذیصلاح.

۵- ارائه تضمین ملکیت غیرمنقـول دارای سند شـرعی یـا عرفـی بـه ارزش پنج صد هزار افغانی و یا بالاتر از آن و یـا ارائـه سـند بـانکی پول نقد مندرج ضمیمهٔ شماره (۱) این قانون.

۶- مبلغ تضمین عاریـت بـوده و از تکس بانکی معاف می باشد.

## منـع اشـتغال بـه رهنمـای معاملات

مادهٔ نهم:

(۱) اشخاص ذیل نمی‌تواننـد حـین تصدی وظیفه به رهنمـای معـاملات

لاربنوونې باندې بوخت شي:

۱- قضات، څارنوالان، د ملي دفاع او کورنيو چارو وزارتونو منسوبين، د ملي امنيت موُظفين، او نظامي تشـــکيلاتو لرونکـــو وزارتونـــو او ادارو نظـــامي منسوبين، د ملي شـــوري او ولايتـــي، ولسوالۍ او کلي شوري ګانو غړي، د خپلواکـــو کمېســـيونونو غـــړي او د ښاروالیوکارکوونکي، دولتي او ګـــډو (مختلطو) تصديو او شرکتونو او نور د ملکي خدمتونو کارکوونکي.

۲- مدافع وکيلان.

۳- هغه شخص چې د قانون په حکم د دفاع د وکالت له بوختيا څخه ممنوع شوی وي.

(۲) ددې مادې د (۱) فقرې په ( ۱ او ۲) جزونو کې درج اشخاص له تقاعد يا د دندې څخه له څنـــګ تـــه کېـــدو وروسته، په هغه صورت کې چې په دې قانون کې د درج شرايطو لرونکې وي، کولای شي جواز ليک ترلاسه کړي.

اشتغال ورزند:

۱- قضات، خـــارنوالان، منســـوبين وزارت های دفاع ملی وامور داخله، مؤظفين امنيت ملی، منسوبين نظـــامی وزارت‌ها وادارات دارای تشـــکيلات نظـــامی، اعضـــای شـــورای ملـــی و شوراهای ولايتی، ولســـوالی وقريـــه، اعضای کميســـيون هـــای مســـتقل وکارکنان شاروالی ها، تصدی هـــا و شرکت های دولتی ومختلط وســـاير کارکنان خدمات ملکی.

۲- وکلای مدافع.

۳- شخصی‌که به حکـــم قـــانون از اشتغال به وکالت دفاع ممنوع گرديده باشد.

(۲) اشخاص مندرج اجـــزای (۱و۲) فقرهٔ (۱) اين ماده بعد از تقاعد يا کناره گيـــری از وظيفـــه درصـــورتی که واجد شرايط مندرج ايـــن قـــانون باشند، می‌توانند جوازنامه را کســـب نمايند.

## معلوماتي فورم

**لسمه ماده:**

د جواز لیک غوښتونکی مکلف دی، معلوماتي فورم په ټاکل شوې موده کې ډک، بشپړ کړي او د انسجام ادارې ته وړاندې کړي.

## د تضمین وړاندې کول

**یوولسمه ماده:**

(۱) د جواز لیک غوښتونکی مکلف دی، خپل شخصي غیرمنقول ملکیت معتبر سند له سرغړونو یا د خپلو ژمنو د نه ترسره کولو څخه د راپیداشوې خسارې د جبران په منظور د انسجام ادارې ته د تضمین په ډول وړاندې کړي.

(۲) نور هغه اشخاص چې حقوقي اهلیت ولري، کولای شي خپل شخصي غیرمنقول ملکیت سند د جواز لیک د غوښتونکي دتضمین په توګه د انسجام ادارې ته په ضمانت ورکړي.

(۳) د جواز لیک غوښتونکی مکلف دی، ددې مادې په ( ۱ او ۲ ) فقرو

## فورم معلوماتی

**مادهٔ دهم:**

متقاضی جواز نامه مکلف است، فورم معلوماتی را در میعاد معینه خانه پُری، تکمیل و به ادارهٔ انسجام ارائه نماید.

## ارائه تضمین

**مادهٔ یازدهم:**

(۱) متقاضی جواز نامه مکلف است، سند معتبر ملکیت غیر منقول شخصی خود را به منظور جبران خساره ناشی از تخلفات یا عدم ایفای تعهدات خویش به ادارهٔ انسجام طور تضمین ارائه نماید.

(۲) سایراشخاص که دارای اهلیت حقوقی باشند، می توانند سند ملکیت غیرمنقول شخصی خود را منحیث تضمین متقاضی جواز نامه به ادارهٔ انسجام به ضمانت بدهند.

(۳) متقاضی جواز نامه مکلف است، اسناد ملکیت مندرج فقره های

کې درج د ملکيت سندونه ددې قانون په لسمه ماده کې د درج شوي معلوماتي فورم سره په يو وخت کې د انسجام ادارې ته وسپاري.

(۴) د انسجام اداره مکلفه ده، ددې مادې په ( ۱ او ۲ ) فقرو کې درج شوي ملکيت د سندونو له صحت څخه د اړوندو مراجعو له لارې ډاډ ترلاسه کړي.

**<u>تر تضمين لاندې ملکيتونو نه لېږد</u>**

**دوولسمه ماده:**

(۱) تر تضمين لاندې غير منقول ملکيتونه په جايزي يا قطعي بيې بل شخص ته د لېږد وړ نه دي او په بل مورد کې تر تضمين لاندې نيول کېدای نه شي.

(۲) تر تضمين لاندې پيسې بل شخص ته د لېږد وړ نه دي او په بل مورد کې تر تضمين لاندې نيول کېدای نه شي.

(۱و۲) اين ماده را هم زمان با فورمۀ معلوماتی مندرج مادۀ دهم اين قانون به ادارۀ انسجام تسليم نمايد.

(۴) ادارۀ انسجام مکلف است، از صحت اسناد ملکيت مندرج فقره های (۱و۲) اين ماده از طريق مراجع ذيربط اطمينان حاصل نمايد.

**<u>عدم انتقال ملکيت های تحت تضمين</u>**

**مادۀ دوازدهم:**

(۱) ملکيت های غير منقول تحت تضمين به بيع جايزی يا قطعی به شخص ديگری قابل انتقال نبوده و در مورد ديگرتحت تضمين قرارگرفته نمی تواند.

(۲) پول تحت تضمين به شخص ديگری قابل انتقال نبوده و در مورد ديگر تحت تضمين قرار گرفته نمی تواند.

## د جوازلیک ورکول

**دیارلسمه ماده:**

(۱) د انسجام اداره د ډاډ له ترلاسه کولو وروسته، د (۱۰) ورځو مودې په ترڅ کې غوښتونکي ته، جو ازلیک ورکوي.

(۲) که چېرې د انسجام ادارې له خوا د جوازلیک د اخیستو غوښتنلیک رد شي، غوښتونکی کولای شي، خپل اعتراض په لیکلي ډول له دلایلو سره یوځای عدلیې وزیر ته وړاندې کړي. په دې برخه کې د عدلیې وزیر تصمیم وروستی دی.

(۳) د جواز لیک حق الامتیاز (۱۵۰۰۰) پنځلس زره افغانۍ دي چې د دریو کلونو مودې لپاره ورکول کېږي.

(۴) جوازلیک په مرکز کې د انسجام د ادارې د رئیس په لاسلیک او په ولایت کې د عدلیې رئیس په لاسلیک صادرېږي.

(۵) جوازلیک بل شخص ته د لېږد وړ

## اعطای جوازنامه

**مادهٔ سیزدهم:**

(۱) ادارهٔ انسجام بعدازحصول اطمینان، درخلال مدت (۱۰) روز به متقاضی، جواز نامه اعطاء می نماید.

(۲) هر گاه درخواست اخذ جواز نامه از طرف ادارهٔ انسجام رد گردد، متقاضی می تواند، اعتراض خود را توأم با دلایل طورکتبی به وزیر عدلیه ارائه نماید. تصمیم وزیرعدلیه دراین زمینه نهایی می باشد.

(۳) حق الامتیاز جوازنامه مبلغ (۱۵۰۰۰) پانزده هزار افغانی بوده که برای مدت سه سال اعطاء می‌گردد.

(۴) جوازنامه در مرکز به امضای رئیس ادارهٔ انسجام و در ولایت به امضای رئیس عدلیه صادر می گردد.

(۵) جواز نامه به شخص دیگر قابل

نه دی.

## د جواز لیک تمدیدول

**څوارلسمه ماده:**

(۱) د جوازلیک لرونکی مکلف دی، د جوازلیک د اعتبار د مودې له پای څخه (۳۰) ورځې د مخه، د هغه د تمدید غوښتنلیک د انسجام ادارې ته وړاندې کړي.

(۲) که چېرې د جوازلیک لرونکی په دې قانون کې له درج شوو حکمونو څخه سرغړونه نه وي کړې، یادشوی جوازلیک د (۱۵۰۰۰) پنځلس زرو افغانیو د ورکړې په بدل کې د نورو درېو کلونو لپاره تمدیدېږي.

(۳) که چېرې د جوازلیک د تمدید غوښتنلیک ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوې مودې په ترڅ کې وړاندې نه شي، د جوازلیک لرونکی د هرې ورځې د ځنډ په وړاندې د (۳۰۰) افغانیو په ورکړه مکلف دی.

(۴) که چېرې د جوازلیک لرونکی د پنځه څلوېښت ورځو مودې په ترڅ کې

انتقال نمی باشد.

## تمدید جوازنامه

**مادهٔ چهاردهم:**

(۱) دارندهٔ جوازنامه مکلف است، (۳۰) روز قبل از ختم میعاد اعتبار جواز نامه، درخواست تمدید آن را به ادارهٔ انسجام ارایه نماید.

(۲) هرگاه دارندهٔ جوازنامه از احکام مندرج این قانون تخلف نه ورزیده باشد، جوازنامهٔ مذکور دربدل پرداخت مبلغ (۱۵۰۰۰) پانزده هزار افغانی برای مدت سه سال دیگر تمدید می گردد.

(۳) هرگاه درخواست تمدید جواز نامه درخلال مدت مندرج فقرهٔ(۱) این ماده ارائه نه شود، دارندهٔ جوازنامه در برابر هر روز تأخیر مکلف به پرداخت مبلغ(۳۰۰) افغانی می باشد.

(۴) هرگاه دارنده جوازنامه در خلال مدت چهل وپنج روز جواز نامهٔ

اړوند جوازلیک تمدید نـــه کـــړي، د انســـجام اداره مکلفـــه ده د مالیـــاتي وجايبو له تصفيې وروسته، جواز ليک لغو او د نومـــوړي نـــوم د معـــاملو د لارښوونې له لست څخه حذف کړي.

(۵) که شخص د معاملو د لارښوونې له لست څخه د خپل معاملو د لارښوونې د دفتر د نوم له حـــذف وروســـته، د معاملو د لارښوونې د نـــوي فعالیـــت غوښتونکی وي، کولی شي د دې قانون له حکمونو سره سم غوښتنلیک وړاندې کړي.

## د معاملو د لارښوونې له بوختیـــا څخه تېرېدنه( انصراف)

**پنځلسمه ماده:**

(۱) د جوازلیک لرونکی کولای شي، د معاملو د لارښوونې له بوختیـــا څخـــه انصراف او په دې اړه خپل غوښتنلیک د انسجام ادارې ته وړاندې کړي.

(۲) د انسجام اداره مکلفه ده دمالیاتي وجايبو له تصفيې، د ټولیزو رسنیو لـــه لارې د اعلان اود اشخاصو د نه ادعا

مربوط را تمدید ننماید، ادارۀ انسجام مکلف است بعد از تصـــفیه وجایـــب مالیاتی، جواز نامه را لغـــو ونـــام وی را از لست رهنمای معاملات حـــذف نماید.

(۵) هرگاه شخص بعد از حذف نـــام دفتـــر رهنمـــای معـــاملات خـــویش از لســـــت رهنمـــــای معـــــاملات خواهان فعالیت مجدد رهنمای معاملات باشد، می تواند طبـــق احکـــام ایـــن قـــــانون درخواســـــت ارایـــــه نماید.

## انصـــــراف از شـــغل رهنمـــــای معاملات

**مادۀ پانزدهم:**

(۱) دارندۀ جوازنامه می‌تواند، از شغل رهنمای معاملات انصراف و درخواست خویش را درمورد به ادارۀ انسجام ارائه نماید.

(۲) ادارۀ انسجام مکلف است بعد از تصفیۀ وجایب مالیاتی، اعلان ازطریـــق رسانه های همگانی وعـــدم ادعـــای

وروسته، جوازليک فسخ او د جوازليک د لرونکي نوم دمعاملو د لارښوونې له لست څخه حذف کړي.

(۳) په ټوليزو رسنيو کې د اعلان لګښتونه د جوازليک د لرونکي پر غاړه دي.

**د جوازليک لغوکول**

**شپاړسمه ماده:**

جوازليک له لاندې حالتونو څخه په يوه کې لغو کېږي:

۱- د جوازليک لرونکي مړينه.

۲- له يوه کال څخه زيات په حبس بانــدې د جوازليـــک د لرونکـــي محکوميت.

۳- له دريو ځلو زيات ددې قانون لــه حکمونو څخه د سرغړونې تکرارول.

اشخاص، جوازنامه را فســخ و اســم دارندۀ جوازنامه را از لست رهنمـــای معاملات حذف نمايد.

(۳) مصارف اعلان در رســانه هـــای همگانی به عهده دارندۀ جـــواز نامـــه می‌باشد.

**لغو جواز نامه**

**مادۀ شانزدهم:**

جوازنامه در يکی از حالات‌ذيل لغـــو می گردد:

۱- وفات دارندۀ جوازنامه.

۲- محکوميـــــــت دارنـــــــدۀ جواز نامه به حـــبس بـــيش از يـــک سال.

۳- تکرارتخلف از احکام اين قـــانون بيش از سه مرتبه.

